## ۱۲

# د کندهار زوړ ښار تر ورانېدو دمخه

د اوسني کندهار غرب ته د کندهار د زاړه ښار خرابې دي، چې تر اوسه ئې هم د ځینو مهمو ودانیو آثار پاته دي، د حکومتي ځای او د ارگ نخښې ښکاره دي، خندقونه او د ښار کلا او د ځینو دروازو مواقع معلومیږي.

دا ښار افشار نادرشاه تر یوه کال محاصرې وروسته په (۱۱۵۱ هـ) فتح کړ، او د هوتکو وروستنی پاچا اعلیحضرت شاه حسین چې یو کال ئې په مرانه او شجاعت د ښار مدافعه کړې وه د نادر افشار په امر مازندران ته نفي سو. (۱)

په دې لنډه مقاله کښې زما مقصد دا نه دئ، چې د دې ښار تاریخ مفصل بیان کړم، بلکې غواړم چې د موجوده کتابو او ماخذو څخه د ښار وروستنی جغرافي وضعیت څرگند کړم چې دا ښار څنگه وُ؟

د کندهار زوړ ښار د هغه غره په شرقي لمن کښې پروت وُ چې (کوه لکه یا قیتول) ئې باله، دا غر شمالاً او جنوباً اوږد پروت دئ، پر دغه غره د ارگ کلا هم وه، او د ابوالفضل په قول ښار دوې کلاوې درلودې. (۲)

دا کلاوې خورا سختې او محکمې وې، د دېوال پسور ئې (۶۰) گزه وُ (۳) او دورا دور ئې هم درلود، دغه کلا شاه جهان په اته لکه روپۍ نوې

ترميم کړې وه. (۴) د کلاو په منځ کښې د ارګ لوړه مانۍ واقع وه، چې اوس ئې خلک نارنج بولي، او لوړتيا ئې تر سلو مترو پورې رسيږي.

د دې سلطنتي مانۍ آثار تر اوسه هم سته، او په وران حال ولاړه ده. نورې مشهورې ودانۍ هم په ښار کښې وې، مؤرخين په دننه ښار کښې د برج خاکستر او برج نو ذکر کوي. (۵)

په غره سربېره تر اوسه پورې د اوبو حوضونه او پاخه مخزنونه او ودانۍ سته، مير معصوم ليکي : چې دلته پخوا آتشکده وه، او د اکبر مغولي تر زمانې ئې هم عمارت موجود و، په امو خښتو پوښلې سوې وه چې د هرې خښتې اوږدوالی او پسور دوه ګزه او پنډوالی ئې يوه لوېشت و. (۶) وروسته د شاه جهان د عصر احوال هسې کاږي :

چې پر دغه غره لوړ درې برجونه هم وه. (۷)

د مغولي دورې مؤرخين د ښار د کلا او د استحکام ذکر ډېر کوي، د صفوي او مغولي خاندانونو په جګړو کښې هر کله دا ښار په وارو وارو محاصره سوئ او د جګړې موقع وه، تر بابر دمخه د ارغوني کورنۍ په لاس کښې و، په (۹۱۳ هـ) له شاه بېګ ارغوني څخه بابر فتح کړ، خو څو مياشتي نه وې تيرې چې بيرته شاه بېګ ونيوئ، مګر بابر په (۹۲۶ هـ) دا ښار محاصره کړ، او د شاه بېګ سره ئې روغه وکړه (رجب ۹۲۶ هـ) (۸)

يو کال وروسته بيا بابر راغی او په ۱۳ د شوال (۹۲۸ هـ) ئې دا ښار ونيو، او شهزاده کامران ته ئې وسپاره، څو بابر و دې ښار په دوی اره درلوده. په (۹۴۲ هـ) کال د طهماسپ صفوی له خوا سام ميرزا راغی او دا ښار ئې کلابند کړ خو کامران جنګونه ورسره وکړل او سام ئې مات کړ، بل کال بيا پخپله شاه طهماسپ کندهار کلابند کړ، او خواجه کلان



بېګ چې د کامران له خوا هلته حکمران و، ښار ئې صفويانو ته وسپاره، مګر کامران له لاهوره ژر راغی، او بداغ خان چې د صفويانو له خوا د ښار حکمران و تسليم سو، او کندهار بيرته کامران ونيو. (۹)

څو کاله وروسته چې همايون د ايران لخوا راغی، په (۲۵) د جمادی الاخرى (۹۵۲ هـ) بيا کندهار د همايون لاس ته ورغی، او برم خان ئې حکمران و. (۱۰) په (۹۶۱ هـ) پخپله همايون د کابل له خوا دې ښار ته راغی، او بهادرخان سيستانی او محمدشاه غلجی (کلاتی) ته ئې وسپاره. په (۹۶۴ هـ) د دې دوو تنو جګړه په کندهار کښې پېښه سوه او صفوي خاندان بيا لښکر راواستول، او کندهار ئې د هند له مملکته بېل کړ، او د صفوي کورنۍ په لاس کښې و. (۱۱)

وروسته په (۱۰۰۳ هـ) د اکبر له خوا شاه بېګخان کابلي کندهار له صفوي لښکرو څخه ونيو، څو په (۱۰۱۴ هـ) اکبر مړ سو، نو صفويانو بيا پر کندهار حمله وکړه مګر د جهانګير لښکر راورسېده او صفويان ئې بيرته له کندهاره وشړل. (۱۲)

وروسته تر څو کالو پورې کندهار د جهانګير د مامورينو په لاس کښې و خو د (۱۰۳۱ هـ) په جمادی الاولی کښې شاه عباس صفوي بيا له دوی څخه واخيست او د شاه جهان تر وخته هم د هغه تر تسلط لاندې و، څو د (۱۰۴۷ هـ) د شوال په ۲۱مه ورځ بيرته د شاه جهان لښکرو هغه ښار ونيو او سعيد خان ئې حکمران و ، لس کاله کندهار د شاه جهان په مملکت اړه درلوده، وروسته بيا شاه عباس صفوي پخپله د ډېرو لښکرو سره راغی، او تر سختو جګړو پس ئې په ۹ د صفر (۱۰۵۹ هـ) کندهار فتح کړ، او د هند له تسلطه ئې ويوست او لس زره سپاره ئې د محراب خان تر قيادت لاندې هلته پرېښوول د شاه جهان له خوا څو مياشتې

وروسته شهزاده اورنګزېب مقرر سو، د جمادی الاولی په ۱۴ ورځ (۱۰۵۹ ه) ئې کندهار محاصره کړ خو محراب خان د ده سره سخت جنګونه وکړل، او د مغولي کورنۍ لښکري مجبوري سوې چې تر څلورو میاشتو محاصرې وروسته بیرته کندهار پرېږدي. (۱۳)

په (۱۰۶۱ ه) بیا شهزاده اورنګزېب د ډېرو لښکرو سره د شاه جهان له خوا راغی، او کندهار ئې بیا محاصره کړ، دوې میاشتي اته ورځي کلابندي وه، او سخت جنګونه وسول، خو اورنګزېب بیرته ناکام ولاړ او کندهار ئې نه کړ فتح یو کال وروسته (۱۰۶۲ ه) داراشکوه شهزاده د یو لك تنو لښکرو سره راغی درېمه پلا ئې کندهار محاصره کړ او تر پنځو میاشتو ئې داسي سخت جنګونه وکړل چې نظیر ئې نه درلود، مګر محراب خان د ښار دفاع وکړه، په (۱۰۶۳ هـ) کال بیرته د شاه جهان لښکر ولاړل. (۱۴) وروسته د هند مغولي حکومت ضعیف سو او چا په کندهار پسي سر ونه ګرزاوه، تر (۱۱۱۹ ه) چې مرحوم حاجي میرویس خان ملي قاید د پښتنو د آزادۍ اعلان وکړ د صفوي خاندان حکمرانان په کندهار کښې وه، له (۱۱۱۹ ه) څخه بیا تر (۱۱۵۰ هـ) د هوتکو د پاچهۍ مرکز وُ، خو په (۱۰۵۱ ه) نادر افشار وران کړ.

## د ښار دروازې :

دې ښار څو دروازې درلودې، چې مؤرخینو ئې تفصیل راوړۍ دئ او هغه دا دي :

د ښار د شمال خواته د ګندیګان دروازه او د شیخ ولي دروازه.

د جنوب خواته د ماشور دروازه، شرقي خواته نوې دروازه.

خضری دروازه قیتول ته نژدې د علی قاپي دروازه دغه دروازې ابوالفضل ذکر کړي دي، مګر نواب صمصام الدوله وایي چې یوه بله



دروازه د (ویس قرن) په نامه هم وه (۱۵) ځکه چې تر اوسه هم د زاړه ښار شرقي خواته یو مزار د (سلطان) ویس په نامه سته نو دا ویلای سو چې دغه دروازه هم د ښار په شرقي خوا کښې وه.

په دې ډول د ښار درو خواوته دروازې درلودې غربي خواته خو ئې د قیتول غر وُ، ګندګان او ماشور چې شمالي او جنوبي دروازې ئې په نامه یادېدې، دوه مشهور کلي دي، چې تر اوسه هم سته او په دغو نومو مشهور دي شیخولي دغه مشهور باباولی دئ چې د نادر په محاصره کښې همدغه دروازه د بابا ولي په نامه یاده سوې ده او چې نادر ښار ونیو، نو ئې د دغي دروازې دباندي دربار وکړ. (۱۶) اما خضري دروازه، د هغي چیني په نامه مشهوره وه چې تر اوسه ئې خلك (د خواجه خضر چینه) بولي او د زاړه ښار د شرق خوته واقعه ده.

## نوري ودانۍ :

ابوالفضل وایي : د قاضی شمس الدین علي باغ او چهار دره او زوړ ښار د ماشور د دروازې خواته د ښار په جنوب کښې واقع وه، او د ارګ دننه عمارت برج څخه (آقچه) نوم درلود (۱۷) او د شاه جهان په عصر (۱۰۳۲ ه) چې ګنج علي خان د صفویانو له خوا د کندهار حکمران وُ، ده د ښار په شاوخوا کښې یو باغ جوړ کړ چې د ګنج علی خان باغ ئې باله، او په ښار کښې دننه د غره په لمن کښې د جبه خانې کلا وه، چې د دغه ځایه د ماشور تر دروازې پوري جنوبي خواته د ښار په منځ کښې یو اوږد بازار وُ. (۱۸)

د زاړه ښار د شاوخوا له مشهورو باغو څخه یو چارباغ وُ چې د ښار شمال غرب ته د ارغنداو پر غاړه مشهور او ډېر سرسبزه باغستان وُ ابوالفضل وایي : چې دا یو دلکشا منزل دئ، چې همایون له ایرانه بیرته

راغی، نو په دغه باغ کښې اوسېدئ، او لومړی دغه باغ بابر جوړ کړئ وُ. (۱۹)

## کندهار دار الضرب وُ :

په ټوله مغولي دوره کښې د کندهار ښار دار الضرب وُ، يعنې سکه پکښې وهله کېده، د زرم هجري کال په شاوخوا کښې ډېري مسي سکې په کندهار کښې وهلې سوي دي چې زما څخه سته جهانګير په کندهار کښې داسي سکې ووهلې چې د دوو لسو برجو تقويمي اشکال نې درلودل. د جهانګير د عصر پر (۱۴) کال په کندهار کښې داسې روپې ضرب سوه، چې دغه بيت پر کښلئ وُ (۲۰) :

زجانګير شاه اکبر شاه

سکهٔ کندهار شد دلخوا

تر مغولي دورې وروسته خو کندهار د هوتکو پايتخت وُ نو هلته د شاه حسين هوتك په نامه د طلا او نقرې او مسو سکې وهلې کېدې.

## د نارنج ماڼۍ :

دمخه مي وويل چې د ښار سلطنتي ماڼۍ د نارنج په نامه مشهوره وه او اوس ئې هم نخښې سته، ورانه ده.

دا ماڼۍ له اوسني وضعيته څخه ډېره لوړه او مهمه ښکاري ځکه چې له مځکي څخه تخميناً سل متره لوړه ده ښائي چې پنځه شپږ پوښښه وي اوس تقريباً مربع شکل لري چې هره ضلعه ئې تر سل متره کمه نه ده.

له کښې څخه دا ماڼۍ په ډېرو پخه پورته سوې ده او په منځ کښې اوږده اوږده سوړان او تور تور غارونه لري. محمد هوتك چې په خپلو سترګو ئې دغه سلطنتي ماڼۍ ليدلې ده، وايې چې د نارنج قصر د کندهار په ارګ کښې وُ، او اعليحضرت شاه حسين هوتك به



په هفته کښې يوه ورځ په خپله کتب خانه کښې هلته د علماء سره مجلس کاوه. (۲۱)

له دغه بيانه ښکارېږي چې دا ماڼۍ خورا پراخه او ارته وه، ځکه چې دا سلطنتي ځای وُ، او پاچا هلته اوسېدئ، نو به ئې خامخا د مجلس او کتابخانې لپاره بيلي بيلي خواوې درلودې، چې هغه د پاچا له کوره څخه جلا وې. لنډه ئې دا : چې د نارنج سلطنتي ماڼۍ د هوتکو په دوره کښې ودانه وه، او دا ماڼۍ د ادب پالونکي پښتون پاچا شاه حسين په عصر کښې د پښتو ادب د پاللو ځای هم وُ، ځکه چې محمد هوتك د دغه ځای د علمي او ادبي مجلسو بيان کوي او وايي چې هلته به پښتو اشعار ويل کېدل، او هم به لوستل کېدل، پخپله پاچا به هم په دغه مجلسو کښې پښتو شعرونه ويل. (۲۲)

نو د نارنج قصر د پښتو ادب پرورشګاه او روزنتون وُ چې يو خورا قيمتي اثر ئې اوس دغه پټه خزانه ده چې زموږ لاس ته راغلې ده، کشکي د دې ادبي روزنتون نور آثار هم زموږ څخه وای. (۲۳)

## لمن ليکونه

١. جهانکشای نادری
٢. آئین اکبری _ ج ٢ _ ص ١٨٧
٣. اکبرنامه _ ج ١ _ ص ٢٣١، رقعات عالمگیری ص ۴٠
۴. پادشاه نامه _ ج ٢ _ ص ۴١٧
۵. رقعات عالمگیری ص ۴٨
۶. تاریخ معصومی ص ٢٣١
٧. رقعات عالمگیری ص ۴١
٨. تزب بابر _ معصومی ص ١١١
٩. اکبرنامه ص ١٣۶ ح ١، طبقات اکبری ص ۴٠ _ ج ٢
١٠. فرشته پادشاه نامه ج ١
١١. اکبر نامه ج ٢ _ فرشته
١٢. تزك جهانگیری ص ٣۴، ۴٢، اقبالنامه ص ١٨_ منتخب اللباب ج ٢_ص ٢۵۶
١٣. منتخب اللباب ج ١ _ ص ۶٨۴، ۶٩٠
١۴. منتخب اللباب ج١، رقعات عالمگیر ص ٢۶
١۵. ماثر الامراء ج ٢ ص ۶۶١
١۶. جهانکشای نادرې ص ٣٢٧
١٧. اکبرنامه ج ١ _ ص ٢٢٩ _ ٢۴١
١٨. رقعات عالمگیر ص ۴٢
١٩. اکبرنامه ج ١ _ ص ٢٣۶
٢٠. تزك جهانگیر ص ٢۴
٢١. پته خزانه قلمی ص ۵۶
٢٢. پته خزانه ص ۵٧
٢٣. کابل مجله، ١٣٢٢ لمریز کال، ٨ مه شماره، ۴١ _ ۴۴ مخونه.